د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

يکشنبه ۷ محرم ۱۴۳۹هـ | ۱۶-۰۹-۲۰۱۷م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۰۶

## مطبوعاتي اعلاميه

## ﴿إِنَّا لِلّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾

موږ د الله سبحانه وتعالی يو او د هغه لوري ته ورگرځو.

د الله سبحانه وتعالی پر قضا په پوره او راسخ باور د حزب‌التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر، د محترم ورور مرحوم عبدالغياث د وفات له امله د هغه درنې کورنۍ ته تسليت وايو او د الله متعال له درباره ورته جميل صبر او عظيم اجر غواړو.

زموږ گران ورور او مخلص دعوتگر عبدالغياث ۴۳ کلن و، چې د خپل عمر ۸ کاله يې په حزب التحرير کې په دعوت کې تېر کړي وو. نوموړي د روان کال د سنبلې په ۲۲مه د پنجشنبې په ورځ په يوه ترافيکي پېښه کې د اجل داعي ته لبيک ووايه. الله سبحانه وتعالی ته د هغه لپاره د مغفرت او فردوس جنت دعا کوو.

عبدالغياث ورور يو فعال دعوتگر و، چې د دعوت په لاره کې يې ډېرې ستونزې وگاللې او د راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره يې په پوره ثبات او ډاډ خپلې مبارزې ته دوام ورکړ.

هغه په افغانستان کې د حزب التحرير د دعوت يوه مهمه سرمايه وه، په حقيقت کې موږ د ده نشت احساسوو او الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو، چې د ده نېک اعمال په خپل دربار کې قبول او نوموړي ته د جنت په روضو کې ځای ورکړي.

﴿وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ * الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُمْ مُصِيبَةٌ قَالُوا إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾ [بقره:۱۵۵-۱۵۷]

صابرانو ته زيری ورکړه، هغه کسان چې کله کوم مصيبت ورورسيږي، نو وايي: موږ د الله يو او د هغه لوري ته ورگرځو.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**